# من معالم التوحيد

د توحيد نبشاني

## د توحید نښانې

عبدالرازق بن عبدالمحسن البدر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله ربِّ العالمين، والعاقبةُ للمُتَّقين، وأشهدُ أن لا إله إلَّا اللهُ وحدَه لا شريكَ له، وأشهد أنَّ مُحمَّدًا عبدُه ورسولُه، صلى الله وسلَّم عليه وعلى آله وأصحابه أجمعين، أمَّا بعد:

توحید د دین پیل او پای، د هغه باطن او ظاهر او د پیغمبرانو لومړۍ او وروستۍ بلنه ده، او همدا د: لا اِله الا الله معنا ده، له همدې امله مخلوقات پېدا شوي، پېغمبران رالیږل شوي، کتابونه نازل شوي، او په همدې سره خلک مؤمنانو او کافرانو، نېکمرغه جنتیانو او بد مرغه دوزخیانو ته ویشل شوي، او دا په مکلفو انسانانو لومړی واجب او د اسلامي دین هغه حقیقت دی چې الله تعالی لدې پرته بل هېڅ دین نه قبلوي، نو چاره یې له حده زیاته لویه ده او زموږ څخه هر یو ورته د یادونې او بصیرت په توګه اړتیا لرو  چې په دې پېغام: (من معالم التوحيد) کې د توحید د څلو او نښانو په اړه د راتلونکو مسألو په اړه یو څه تشریح شوې ده:

لومړۍ مسأله: د توحید ځانګړتیاوې او فضیلتونه.

دویمه مسأله: د توحید تعریف او حقیقت.

دریمه مسأله: د توحید خالصول او بشپړول.

څلورمه مسأله: د توحید باطلوونکي او نیمګړتیاوې.

پنځمه مسأله: د توحید سرچینه او اصل.

شپږمه مسأله: د توحید ثمره او ګټې.

دا هغه شپږ مسایل دي چې پدې پیغام کې به یې په اړه په لنډه او مختصره توګه خبرې وشي، د دې مسالو هره یوه یې تفصیل او پراخ وضاحت ته اړتیا لري، خو زه به په لنډو ټکو کې هغه څه راونغاړم چې د الله په اذن به ترې مطلوب هدف ترلاسه شي، الله هغه ذات دی چې یوازې له هغه څخه مرسته غوښتل کیږي او بریالیتوب د همغه له لورې دی.

## لومړۍ مساله:

## د توحید ځانګړتیاوې او فضیلونه

پوه شه چې توحید ډېرې ځانګړتیاوې او ګڼ شمېر فضیلتونه لري چې د هغه لوړ مقام او مرتبه ښیي، زه به یې دلته لسو ځانګړتیاوو ته اشاره وکړم.

لومړۍ: دا هغه موخه ده چې موږ یې له امله پیدا شوي او د عملي کولو لپاره یې وجود ته راوړل شوي یو؛ لکه څنګه چې د الله تعالی کلام پدې خبره دلالت کوي.

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ 56﴾

ژباړه: (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي). [سورة الذاريات] او د:

﴿إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ﴾

﴿إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ﴾ معنا ده: لِيُوَحِّدُونِ، یعني چې ما په یووالي سره ومني، نو توحید هغه موخه ده چې له امله یې موږ په دې دنیا کې پیدا شوي یو، او الله تعالی موږ عبث نه یو پیدا کړي او همداسې یې نه یو پرېښي، بلکې مخلوقات یې د دې لپاره پیدا کړي چې عبادت یې وکړي، او د دې لپاره یې پېدا کړي

چې هغه په يووالي سره ومني، او د توحيد پر عظمت او د لوړې مرتبې په بيانولو همدا دلالت بسنه کوي.

دويمه خبره دا ده چې: توحيد د پيغمبرانو او رسولانو د بلنې محور دی، معنی دا چې هر پيغمبر چې د الله تعالى له خوا راليږل شوی، د هغه بلنه د توحيد پر بنسټ ولاړه ده او ټينګار يې پرې کړی دی، چې د دې لپاره ډېرې شواهد شتون لري؛ د الله تعالى د دې وينا په شمول چې فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ﴾

ژباړه: (او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول ليږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]، او د الله جل جلاله دا قول:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ 25﴾

ژباړه: (او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی ليږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ). (الأنبياء سورت)، او د الله جل جلاله دا قول:

﴿وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ 45﴾

ژباړه: (او زمونږ هغه رسولان وپوښته چې له تا وړاندې مو ليږلي وو، آيا له رحمانه پرته مو نور معبودان ټاکلي وو

چې لمانځل کېدل به؟). (الزخرف سورت)، او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ﴾

ژباړه: (او ياد کړه وروو د عاديانو، کله يې چې په احقاف (نومي ځای کې) خپل قوم ووېرولو او په رېښتيا له ده مخکې او وروسته (ډېر) وېروونکي تېر شوي وو (پدې خبره) چې له الله پرته بل څه مه لمانځئ، زه پر تاسې د يوې (سختې) لويې ورځې له عذابه وېرېږم). [الأحقاف سورت: 21 آيت].

النُّذرُ: رسولان؛ له هغه څخه مخکې او وروسته پيغمبرانو په دې هدف سره هوکړه کړې ده.

﴿أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ﴾،

ژباړه: (چې عبادت به نه کوئ، مګر يوازې د الله)، نو توحيد د پيغمبرانو او رسولانو د بلنې اساس دی؛ لدې امله، لومړنۍ خبره چې خلک يې له خپلو پيغمبرانو اوري او لومړی شی چې دوی پرې د الله پاک لورې ته د بلنې پر مهال پيل کوي د هغه وحدانيت ته بلنه ده، ځکه دا هغه بنسټ دی چې دين پرې ولاړ دی؛ ځکه د دين مثال د ونې په څېر دی، او دا معلومه ده چې ونه بېخ او ښانګه لري، او ونه له بېخ پرته نه درېږي، او دين هم له اساس پرته چې توحيد دی، نه درېږي.

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ 24﴾

ژباړه: (آيا ته نه ګورې چې الله د سپېڅلي کلمې مثال ښنګه ښودلی؟ لکه يوه ښه ونه چې جرړې يې (په ځمکه کې) خښې

وي او ځانګې يې تر آسمانه رسېدلې وي). [إبراهیم سورت]، لکه څنګه چې ونه هغه مهال مېوه کيږي چې ريښې يې پرې شي، همداسې دين هم دی، که چيرې پر توحيد ولاړ نه وي، ګټه ترې نه اخېستل کيږي، په دين کې د توحيد حيثيت په ونو کې د ريښو او په ودانيو کې د بنسټونو د حيثيت په څېر دی.

هغه څه چې ښيي توحيد د پيغمبرانو او رسولانو د بلنې محور او د دوی د پيغام اساس دی؛ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دا وينا ده چې په مستند ډول ترې روايت شوې ده:

«الأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ، وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى، وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ»([1])

ژباړه: «پیغمبران لکه مېړني وروڼه دي چې مورګانې يې سره جلا وي، او دين يې يو دی».[1] يعنې عقيده يې سره يوه ده، ټول د الله يووالي ته بلونکي دي، او مورګانې؛ يعنې شريعتونه يې سره جلا دي.

﴿لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ﴾

ژباړه: (مونږ په تاسو کې د هر يو لپاره يو دستور او لاره مقرره کړې ده)، [المائدة سورت: 48 آيت].

دريمه چاره:

د توحيد يوه ځانګړتيا دا ده چې دا د مکلف انسان پر غاړه لومړی دنده ده؛ نو لومړی کار چې دين ته د ننوتلو لپاره پرې انسان مکلف دی؛ هغه توحيد دی، او لومړی کار چې يو څوک پرې د الله تعالی لورې ته د بلنې ورکولو پر مهال پيل کوي؛

[1] مسلم په (2365) شمېره د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی دی.

توحيد دی چې پدې خبره ډيری دلايل شتون لري؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې وينا په شمول چې فرمايي:
«أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ»
ژباړه: «ماته امر شوی چې خلکو سره تر هغه وجنګېږم تر څو د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل بر حق معبود نشته». حديث[1]، همدا رنګه يمن ته د لېږلو پر مهال معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا:
«إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ الله عز وجل»
ژباړه: «ته د اهل کتابو يوې ډلې ته ورتلونکی يې، نو لومړی شی چې ته يې هغوی ته بلنه ورکوې د الله تعالی عبادت دی».
حديث[2]؛ او په بل روايت کې دا الفاظ دي:
«إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ كِتَابٍ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا الله تعالى»([4])،
ژباړه: «ته د اهل کتابو يوې ډلې ته ورتلونکی يې، نو لومړی شی چې ته يې هغوی ته بلنه ورکوې دا دی چې الله تعالی يو وګڼي».[3] او په بل روايت کې دا الفاظ دي:
«إِنَكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ، فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَدًا رَسُولُ الله»([5])،

---

1 بخاري په:(25، 1399)، او مسلم په: (21، 22) شميره د أبوهريرة او ابن عمر او نورو رضي الله عنهم له حديث څخه روايت کړی دی.
2 (بخاري په: (1458) او مسلم په: (19)) روايت کړی دی.
3 بُخارِي روايت کړی (7372).

ژباړه: «ته د اهل کتابو يوې ډلې ته ورتلونکی يې، نو کله چې ورغلې، دې ګواهۍ ورکولو ته يې راوبله چې له الله پرته بل حق معبود نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی».[1] نو توحيد لومړی هغه څيز دی چې پر مکلفو واجب دی او په همدې پيل کوي، او لومړی هغه څه دی چې انسان پرې دې دين ته داخليږي، نو دين پر توحيد ولاړ دی، او همدا يې بنسټ دی چې پرې ولاړ دی.

څلورمه چاره: د توحيد يوه ځانګړتيا دا ده چې په دنيا او آخرت کې د امن او هدايت سبب دی، دا د الله تعالى په دې وينا کې ولوله:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ 82﴾

ژباړه: (هغه کسان چې ايمان يې راوړی او له خپل ايمان سره يې ظلم (شرك) نه دی ګډ کړی (نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه کسان هدايت موندونکي دي). (الأنعام سورت)، امنيت د الله په لاس کې دی، او هغه پاک ذات يې يوازې موحد انسان ته ورکوي چې هغه ته په دين کې مخلص وي، او کله چې دا آيت نازل شو - لکه څنګه چې په صحيح حديث کې راغلي دي - نو صحابه کرامو - رضي الله عنهم - ته دا مسئله سخته تمامه شوه، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل او ويې ويل: "ای د الله رسوله! زموږ څخه څوک دی چې پر ځان يې ظلم

---

[1] بُخارِي روايت کړی (1496).

نه دی کړی؟ یعني، زموږ څخه هېڅوک داسې نشته چې پر ځان یې ظلم نه وي کړی، حال دا چې الله تعالی فرمایلي:
﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ 82 ﴾،
﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ﴾،
(هغه کسان چې ایمان یې راوړی او له خپل ایمان سره یې ظلم (شرك) نه دی ګډ کړی (، نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه کسان هدایت موندونکي دي). دا پدې مانا ده چې موږ د امنیت یا هدایت لپاره هیڅ چانس نلرو، ځکه چې زموږ هر یو پر ځان ظلم کړی دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "داسې نه ده - پدې معنی چې دا په آیت کې د ظلم معنی نه ده - ایا تاسو د صالح بنده - یعنې د لقمان حکیم - خبرې نه دي لوستلي؟
﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ 13 ﴾
ژباړه: (بېشکه شرک یقینًا ډېر لوی ظلم دی). لقمان سورت نو هغه - صلی الله علیه وسلم - په دې آیت کې ظلم په شرک سره تفسیر کړ؛ نو د آیت له سیاق څخه معلومه شوه چې چا ایمان راوړ او شرک یې ونه کړ؛ د هغه لپاره په دنیا او آخرت کې امنیت او هدایت دی چې دا د توحید له ځانګړتیاوو څخه دي: نو څوک چې موحد وي، الله تعالی به په دنیا او آخرت کې امن او هدایت ورکړي.

پنځمه چاره: د توحید له ځانګړتیاوو یوه دا ده چې پدې کې له ګډوډۍ او تناقض څخه سلامتیا ده، د نورو عقایدو پر خلاف، چې ګډوډ او متناقض دي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفا كَثِيرا 82 ﴾

ژباړه: (او که چیرې دا (قرآن) د غیرالله له طرفه وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زیات اختلاف موندلی و). (النساء سورت)، نو کومې عقیدې چې خلک یې ایجادوي او رامینځته کوي یې ډیرې ګډې وډې او متضادي دي، خو صحیح ایمان، سالمه عقیده، او ټینګ توحید چې د الله جل جلاله له کتاب او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له سنت څخه اخیستل شوی، له دې ټولو څخه پاک دی.

شپږم: د توحید یوه ځانګړتیا دا ده چې دا د سالمو فطرتونو او عقلونو سره سمونتیا لري، توحید د فطرت دین دی، او که انسان خپل فطرت ته پریښودل شي، له توحید پرته به بل څه ونه مني؛ ځکه چې دا د فطرت موافق دی، بلکه فطرت دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ 30 ﴾

ژباړه: نو ته خپل مخ دین ته نبغ (او برابر) وساته، په داسې حال کې چې حق ته مایل اوسې، (تاسو لازم ونیسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه یې خلق پیدا کړي دي، د الله تخلیق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نبغ) دین دی، لېکن

زيات خلک نه پوهېږي. (الروم سورت)، او شرک چې دی، نو هغه له فطرت څخه انحراف دی. لدې امله، په صحیح مسلم کې په یو قدسي حدیث کې دي چې الله تعالی فرمایلي دي:

«وإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ»؛

ژباړه: «او ما خپل ټول بندګان (حق ته) مایل پیدا کړي، خو شیطانان ورته راغلل او له خپل دین څخه یې واړول»[1]؛ ما خپل بندګان حنفاء پیدا کړي دي: یعنې په فطرت سره چې هغه توحید دی، بیا شیطانان راغلل او هغوی یې بې لارې کړل، یعنې هغوی یې له خپل دین څخه واړول.

او په (الصَّحيح) کې حدیث دی چې ابو هريرة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي:

«مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، وَيُنَصِّرَانِهِ كَمَا تُنْتِجُونَ البَهِيمَةَ، هَلْ تَجِدُونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ، حَتَّى تَكُونُوا أَنْتُمْ تَجْدَعُونَهَا؟»،

«هيڅ نوی زیږېدلی نه وي مګر دا چې پر -اسلامي- فطرت زیږیږي، نو مور او پلار یې یا یهودي او یا یې نصراني کړي، لکه یو څاروی چې روغ سلامت بل څاروی زیږوي، ایا تاسو په کې کوم -د غوږ یا پوزې وغیره- پرې شوی وینئ، تر دې

[1] مسلم په (2865) د عياض بن حمار المُجاشعي رضي الله عنه له حدیث څخه روایت کړی.

چې تاسو يې -غوږ، پوزه يا بل ځای- پرې کړئ؟"[1]، او په بل روايت کې راځي چې:

«فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوَ يُنَصِّرَانِهِ، أَوَ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَا تُنْتَجُ البَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ، هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ؟»،

ژباړه: «نو مور او پلار يې هغه لره، يهودي، يا نصراني او يا مجوسي کړي، لکه څنګه چې يو څاروی بل سالم څاروی زيږوي، نو آيا تا په هغوی کې د اندامونو له اړخه کوم نیمګړی وينې»[2]، نو څاروی د خپلې مور له ګېډې څخه داسې پوره راوځي چې غوږونه او غړي يې پوره وي، نو کله چې ترې پېښه، يا غوږ او يا بل څه پرې شي، نو دا د هغې اصلي خلقت نه وي، بلکې دا د خلکو د کړنو له امله وي وروسته له دې چې په پوره بڼه زيږېدلې وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«حَتَّى تَكُونُوا أَنْتُمْ تَجْدَعُونَهَا»

«تر دې چې تاسو يې نیمګړی کړئ». نوزاد هم همداسې په فطرت سره پيدا کيږي، نو کله چې نصراني، يا يهودي، يا مجوسي او يا بل ډول بې لارې شي، ګمراه شي او په باطل روان شي، نو دا يې د مور او پلار د کړنو، يا هغه چاپيريال د اغيزې له امله دی چې پکې زيږيدلی دی.

او زموږ ځوانان په هغه څه راالوېږي چې *** د دوی پلرونو ورسره عادت کړي وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

---

1 بخاري په: (6599) شميره روايت کړی دی .

2 بخاري په: (1358) شميره اومسلم په: (2658) شميره روايت کړی دی.

«فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوَ يُنَصِّرَانِهِ، أَوَ يُمَجِّسَانِهِ»
«يعنې مور او پلار يې هغه لره يهودي، يا نصراني او يا مجوسي کړي». او داسې يې ندي ويلي چې «أو يُسَلِّمَانِهِ» يعنې يا يې مسلمان کوي، ځکه چې هغه په فطرت سره زيږيدلی او رالوی شوی دی، نو توحيد د فطرت دين دی، او شرک او نورې ګمراهۍ او باطل ټول د فطرت سره په ټکر کې دي او ضد يې دي. او له روغو عقلونو سره يې موافقت لدې امله دی چې کوم عقلونه چې برابر وي، بې لارې او منحرف شوي نه وي، نو هغه له توحيد پرته پر بل څه نه راضي کيږي او نه يې مني، او دا به کوم د سالم عقل خاوند وي چې د څو خدايانو په عقيده راضي وي! يا پدې چې د ګنبدونو او خاورو سره يې زړه تړلی وي.
﴿ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ 39 مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ﴾
(آيا ګڼ او متفرق خدايان غوره دي که هغه الله چې يو دی، ډېر قوي او غالب دی) ٣٩
تاسو له الله نه غير عبادت نه کوئ مګر د داسې نومونو چې تاسو او ستاسو پلرونو ايښي (او نومولي) دي (او) الله د دوی (د الوهيت) په باره کې هېڅ دليل نه دی نازل کړی). (يوسف سورت).

د جاهلیت د زماني موحد انسان؛ زید بن عمرو بن نفیل هغه مهال وویل چې کله یې د خپل قوم دین پرېښوده[1]:

کله چې چارې ویشل کیږي نو زه ... د یو رب په دین شم که د زرو اربابانو په دین.

لات او عُزی مې ټول پرېښودل*** او همداسې کار یو پیاوړی او صابر انسان کوي.

نو نه خو د عُزی په دین یم او نه یې د دوو لوڼو *** او نه د بنی عمرو د دوو بوتانو پروا لرم.

« او هغه به د قریشو پر حلالو نیوکې کولې او ویل به یې: پسه الله تعالی پیدا کړی، له اسمانه یې ورته اوبه نازلې کړي او له ځمکې یې ورته وابښه راشنه کړي، بیا یې تاسو د الله تعالی له نوم پرته د بل څه په نوم حلالوئ، تر څو له هغه انکار او د نورو درناوی وکړئ»[2].

په عقلونو کې لدې بل روښانه او ځلانده دلیل نشته چې د دې کائناتو د خالق پر کمال، او له عیب او نیمګړتیاوو څخه یې په پاکوالي دلالت وکړي او پر دې چې یوازې د هغه په وړاندې عاجزي کیږي، او پیغمبران هم د دې لپاره راغلي چې خلکو ته دا موضوع په تفصیل سره ورپه زړه کړي، نو د توحید ښکلا او د شرک بدي په ذهنونو او غریزو کې په کلکه ځای پر ځای شوې ده، هغه چا ته معلومه ده چې ژوندی زړه، روغ ذهن او سالمه غریزه ولري.

---

1 «السِّيرة» د: ابن إسحاق (96/2).

2 صحيح البخاري (3826).

اوومه چاره: د توحيد يوه ځانګړتيا دا ده چې توحيد په دنيا او آخرت کې ريښتينې، تلپاتې او دوامداره اړيکه ده، او د خلکو تر منځه د توحيد د اړيکې په څېر بله هيڅ اړيکه نشته، ځکه چې د توحيد او ايمان دا اړيکه د خلکو ترمنځ په دنيا او آخرت کې تلپاتې او دوامداره اړيکه ده.

﴿ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ 67﴾

((دا) اشنايان به هغه ورځ يو د بل لپاره غليمان وي، پرته له متقيانو (۶۷). (الزخرف سورت)، او په يو بل آيت کې فرمايي:

﴿وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ ٱلۡأَسۡبَابُ 166﴾

(او پر دوی (ټولې) وسيلې غوڅې شي (۱۶۶). (البقرة سورت) هر ډول خپلوي او اړيکه پرې کېدونکې او هره مينه له منځه تلونکې ده، هره اړيکه له منځه تلونکې ده پرته له هغې مينې او اړيکې چې په توحيد او د الله تعالى په ايمان ولاړه وي، او هره اړيکه چې له هغه پرته د بل چا لپاره وي پرې کېدونکې او بېليدونکې ده، مهمه نده چې اړيکه څومره قوي وي او څومره ژوره ده، دا به يا په دې دنيا او يا آخرت کې پای ته ورسيږي - يقينا - پرته له هغې اړيکې څخه چې د الله تعالى د توحيد او په هغه باندې د ښه ايمان پر بنسټ ولاړه وي، نو دا يوه تلپاتې، دوامداره اړيکه ده چې په دنيا او آخرت کې به پاتې شي.

اتمه چاره: د توحيد يوه ځانګړتيا د سرچينې سلامتيا ده چې له يوې خوږې او پاکې چينې سرچينه اخلي، د الله تعالى له کتاب او د هغه د رسول -صلى الله عليه وسلم-له سنت څخه،

هغه ځوک چې له خپلو خواهشاتو ځخه نه غړیږي، مګر له هغې وحی ځخه چې ورته کیږي، دا هغه اړخ دی چې په تفصیل سره به په راتلونکي کې بیان شي.

نهمه چاره: د توحید له ځانګړتیاوو ځخه یوه استقامت او حفاظت دی، او الله - تعالی - د دې توحید او د دې دین د دوامداره ساتنې او بقا ضمانت کړی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ 33﴾

(دغه (الله) هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره لیږلی دی، د دې لپاره چې دغه (الله) دغه (حق دين) ته په نورو ټولو دينونو غلبه ورکړي، اګر که مشرکان دغه (کار) بد ګڼي ۳۳). (التوبة سورت)، او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾

(بیشکه الله له هغو کسانو نه دفاع کوي چې ايمان يې راوړی دی) [الحج سورت: 38 آيت]. او الله پاک فرمايلي:

﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ 47﴾

(او پر موږ د مومنانو مرسته کول حق دي ۴۷). (الروم سورت)، او الله تعالی فرمايلي:

﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ﴾

(الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی؛ په ثابته خبره مضبوطوي، په دنيايي ژوند کې او په اخرت کې). [إبراهيم سورت: 27 ايت].

لسمه چاره: د توحيد يوه ځانګړتيا دا ده چې دا په دنيا او آخرت کې ګڼې ثمرې، ډيرى فضيلتونه او متنوعه اغيزې لري، چې د دې موضوع په پاى کې به يې د ځينو په اړه بحث وشي.

## دويمه مسأله:

## د توحيد تعريف او حقيقت

توحيد: د: وحَّد يوحِّد توحيدًا فعل لپاره مصدر دى چې دا يو اصل دى او په يووالي دلالت کوي، او د الله تعالى توحيد د هغه جل جلاله په حقونو او ځانګړتياوو کې د هغه يو ګڼل او هر ډول شرک ترې نفي کول دي، نو هغه - سپېڅلى ذات - په خپلو ځانګړتياوو او پر بندګانو يې په خپلو حقونو کې هيڅ شريک نه لري.

نو ربوبيت - چې په پيدايښت، رزق ورکولو، ژوندي کولو او مړه کولو کې د دې کايناتو د چارو سمبالنه ده، دا د الله تعالى له ځانګړتياوو څخه ده.

د هغه سپېڅلي نومونه، او عاليه صفتونه، د هغه نافذه اراده، هر اړخيز ځواک، پراخه پوهه او په اسماوو او صفاتو کې يې بشپړتيا د هغه له ځانګړتياوو څخه دي، نو چا چې د الله تعالى له ځانګړتياوو څخه د يوې نسبت مخلوق ته وکړ، توحيد يې نقض کړ.

د الله تعالى حقونه پر خپلو بندګانو دا دي چې د هغه عبادت وکړي او له هغه سره هيڅ شى شريک نه کړي، لکه څنګه چې د معاذ رضى الله عنه په حديث کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

«يَا مُعَاذُ؛ تَدْرِي مَا حَقُّ الله عَلَى العِبَادِ؟ وَمَا حَقُّ العِبَادِ عَلَى الله؟» قال: قلتُ: اللهُ ورسولهُ أعلمُ، قال: «فَإِنَّ حَقَّ الله عَلَى العِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوا اللهَ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وحَقَّ العِبَادِ عَلَى الله عز وجل أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»([11])

«ای معاذه! ته پوهيږې چې د الله حق پر بنده ګانو او د بندګانو حق پر الله څه دی؟ هغه وايي ما وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، نو هغه وفرمايل: د الله حق پر بندګانو دا دی چې د الله عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي، او د بندګانو حق پر الله دا دی چې هغه چاته عذاب ورنکړی چې هيڅ شی يې ورسره شريک کړی نه وي».[1] نو عبادت د الله پاک حق دی؛ نو چا چې له عبادت څخه يو شی غير الله تعالی وکړ، توحيد يې نقض شو.

نو توحيد: د الله تعالی په حقونو او ځانګړتياوو کې د هغه يووالی دی، او شرک د الله تعالی سره د هغه په هر حق يا ځانګړتيا کې د بل چا برابرول دي. نو دا د توحيد حقيقت دی چې موږ الله تعالی يو وګڼو او له هغه سره هېڅ شی شريک نه کړو، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ﴾

(او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هېڅ شی مه شريکوئ) [النساء سورت: 36 آيت]، او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿۞وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾

[1] بخاري (2856، 5967)، او مسلم (30) روايت کړی دی.

(او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغه). [الإسراء سورت: 23 ایت]، او الله پاک فرمایلي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾

(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). [البینة سورت: 5 آیت]، او په دې معنا سره ډیر آیتونه راغلي دي.

نو پدې سره جوتیږي چې توحید په درې ډوله دی: د ربوبیت توحید، د أسماء او صفاتو توحید او د الوهیت توحید.

د ربوبیت توحید: پدې باور سره الله تعالی یو ګڼل دي چې هغه یوازې خالق، روزي ورکوونکی، مالک، لورونکی او په چارو کې تصرف کوونکی دی، په هیڅ شي کې شریک نلري. الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُۚ﴾

(ته (دوی ته) ووایه چې: د آسمانونو او ځمکې رب څوک دی، ته ووایه چې الله دی) [الرعد سورت : 16 آیت]، او الله تعالی فرمایلي:

﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 84 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ 85 قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ 86 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ 87 قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 88 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ﴾

(ته (دوی ته) ووایه: دا ځمکه او څوك چې په دې کې دي، د چا دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ 84
دوی به یقینًا ووايي: خاص د الله لپاره دي، (نو ورته) ووایه: ایا نو تاسو پند نه اخلئ! ۸۵
ته (دوی ته) ووایه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوك دی 86
دوی به ضرور ووايي: د الله لپاره دي، ته (ورته) ووایه: ایا نو تاسو نه وېرېږئ! 87
ته (دوی ته) ووایه: څوك دی هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هر شي پاچاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدی که چېرې تاسو پوهېږئ (88)
خامخا به دوی ووايي: خاص د الله لپاره دي، ته (ورته) ووایه: نو څنګه پر تاسو جادو کولی شي؟) (المؤمنون سورت)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾

(او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو ښه پالونکی دی) (غافر سورت)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ﴾

(الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). (الزمر سورت) او نور آیتونه.

او دویم ډول: د أسماء او صفاتو توحید دی: چې هغه په نیکو نومونو او عالیه صفتونو سره الله تعالی یو ګڼل دي؛ هغه چې

د هغه په کتاب او د هغه د نبي صلى الله عليه وسلم په سنت كې راغلي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ 8﴾

الله (چې دی) نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، خاص د ده لپاره تر ټولو ښكلي نومونه دي8 ﴾ (طه سورت)، او الله پاک فرمايلي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ﴾

(ته (دوی ته) ووايه: تاسو الله بلئ، يا تاسو رحمٰن بلئ، هر يو (نوم) يې چې وبلئ، نو خاص د هغهٔ لپاره دي تر ټولو ښكلي نومونه) [الإسراء سورت: 110 آيت]. الله - جل و علا- فرمايلي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ 22 هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ 23 هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ 24﴾

دغه الله هغه ذات دی چې له ده نه غير بل هېڅ حق معبود نشته، په غيبو او په ښكاره و عالم دی، هم دی ډېر مهربان، بې حده رحم كوونكی دی.

(دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي وركوونكی (او) امان وركوونكی دی، نګهبان (محافظ) ښه

غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويي والا دی، الله پاك دی له هغو (شيانو) نه چې دوی يې ورسره شريکوي 23

هم دغه الله پيدا کوونکی، (له نشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی، خاص همده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، د ده پاکي بيانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی، او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی24﴾ (الحشر سورت).

او دريم ډول: د الوهيت توحيد دی؛ په عبادت سره د الله تعالی يووالی لکه: دعاء، هيله مندي، ويره، نذر، حلاله، لمونځ، روژه او داسې نور عبادتونه او هغه ته د دين خالصول او له شرک څخه بيزاري لکه الله تعالی چې فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾،

(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). او الله تعالی فرمايلي:

﴿أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ ﴾

(خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دين دی). [الزمر سورت: 3 آيت]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ 162 لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ ﴾

(ته ووايه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمين لپاره دي) 162

د هغه هېڅ شريك نشته او ما ته د همدې (توحيد) حکم شوی دی) (الأنعام سورت)، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ»

«څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې له الله پرته بل سيال رابولي، هغه به دوزخ ته ننوځي»[1] نو دا توحيد او همدا يې حقيقت دی.

د توحيد درې واړه ډولونه؛ هر يو يې مخالف اړخ لري "نو کله چې پوه شوې چې د ربوبيت توحيد پدې اقرار کول دي چې الله تعالی خالق، روزي ورکوونکی، ژوند ورکوونکی، مرګ ورکوونکی، د ټولو چارو سمبالوونکی او د خپلو ټولو مخلوقاتو اداره کوونکی دی، او دا چې هغه په خپل سلطنت کې هيڅ شريک نلري" (نو پدې هم پوه شه چې) د دې عکس د بنده دا عقيده درلودل دي چې له هغه پرته د الله تعالی سره په هغو چارو کې ګډون لري چې يوازې الله تعالی يې توان لري.

او کله چې پوه شوې چې اسماء او صفات توحيد په هغو نومونو سره د الله تعالی رابلل دي چې هغه پرې ځان نومولی او په هغو صفتونو سره يادول دي چې هغه پرې خپله ځان ياد کړی او يا يې پرې رسول محمد صلى الله عليه وسلم ياد کړی دی، په داسې حال کې چې تشبيه او تمثيل ترې نفي شي، نو د دې ضد دوه شيان دي چې دواړه الحاد بلل کيږي.

---

[1] [] بخاري (4497)، او مسلم (92) د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی او دا الفاظ د بخاري دي.

يو يې: له الله تعالی څخه يې نفي کول، او د کمال او جلال په هغو صفتونو سره يې نه يادول چې په قرآن او سنت ورته ثابت دي.

او دويم يې: د الله تعالی صفتونه د مخلوق له صفاتو سره تشبيه کول، حال دا چې الله تعالی فرمايلي:

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی). (الشوری سورت)، او الله تعالی فرمايلي:

﴿يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾

(دغه (الله) پوهېږي په هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هر هغه څه چې د دوی وروسته دي او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی) [طه سورت: 110 آيت]،

کله چې پوه شوې چې د الوهيت توحيد په ټولو عباداتو سره د الله تعالی يووالي او له هغه پرته د بل هر چا څخه د عبادت نفي کولو ته وايي؛ (نو پدې هم پوه شه چې) د دې ضد له الله تعالی پرته د بل چا يو ډول عبادت کول دي، او دا د عامو مشرکانو غالب حالت و، او په همدې موضوع کې د ټولو پيغمبرانو او د هغوی د قومونو ترمنځ دښمني وه"[1].

## دريمه مساله:

## د توحيد عملي کول او بشپړول

د توحيد عملي کول لوړه درجه، لوی مقام او مرتبه ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم د ابن عباس رضی الله عنه او

1 «معارج القبول» د شيخ حافظ الحکمي (418/1).

نورو په مشهور حدیث کې یادونه کړې چې د قیامت په ورځ به جنتیان له حساب او سزا پرته جنت ته ننوځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«ومَعَهُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ ولَا عَذَابٍ»

«او د هغوی سره به اویازره نور وي چې جنت ته به له حساب او عذاب پرته ننوځي» بیا په خپلې وینا کې یې د هغوی یادونه وکړه:

«هُمُ الَّذِينَ لَا يَرْقُونَ، ولَا يَسْتَرْقُونَ، ولَا يَتَطَيَّرُونَ، ولاَ يَكْتَوُون وعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُون»

«دوی هغه کسان دي چې نه خپله دم کوي، نه له نورو د دم غوښتنه کوي، نه فالبیني کوي او نه په داغلو سره درملنه کوي او په خپل رب توکل کوي»[1] نو دا په توحید کې لویه مرتبه ده او همدا یې عملي کول او بشپړول دي.

او د توحید تحقق: د توحید بشپړول، تکمیلول، د شرک، بدعتونو او ګناهونو له ناپاکیو څخه یې پاکول. دې درې مسایلو ته د علم خاوندان هغه خنډونه وايي چې الله تعالی او آخرت ته د رسیدو په لار کې پراته دي، یعنې: د شرک خنډ، د بدعت خنډ، او د ګناه خنډ.

د شرک له خنډ څخه خلاصېدل د توحید په اخلاص، د بدعت له خنډ څخه خلاصېدل د سنتو په پابندۍ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیروۍ او د هغه په تګلاره تللو او د نافرمانۍ خنډ په ګناهونو او سرغړونو کې له ښکېلتیا څخه ځان ساتلو، الله تعالی ته په ریښتینې توبې سره کیږي، نو کله

1 بخاري (5705)، او مسلم (220) روایت کړی.

چې بنده پدې مرتبه کې قرار ولري، هغه د توحيد د تحقق مرحلې ته رسيدلی دی.

د توحيد تحقق دوه درجې لري: واجب تحقق او مستحب تحقق، او د دواړو درجو خاوندان به د قيامت په ورځ پرته له حساب او سزا څخه جنت ته ننوځي:

د توحيد د تحقق لومړی مرتبه:د اعتدال د خاوندانو مرتبه ده، معتدل: هغه څوک دی چې واجبات ترسره کوي او له حرامو ځان ساتي، نو كه چيرته بنده په دې حالت کې و چې واجبات يې پر ځای کول او له حرامو؛ غټو او وړو ګناهونو يې ډډه کوله؛ نو دې انسان واجب توحيد پر ځای کړی او دی له معتدلو انسانانو څخه دی، او دوی هغه خلک دي چې جنت ته به له حساب او عذاب پرته داخليږي، نو دا شوه يو مرتبه.

او دويمه مرتبه له دې مرتبې څخه لوړه ده چې هغه د: مستحب تحقيق مرتبه ده، او دا نېکيو ته د مخکښو انسانانو مرتبه ده، دوی هغه خلک دي چې سربيره پر دې چې په واجبو پابند او له كبيره ګناهونو او حرامو څخه لرې دي، په پراخه سخاوت، نفلونو او مستحباتو کې يو له بل څخه مخکې کيږي.

نو د توحيد عملي كوونكي دواړه ډوله خلک: د اعتدال خاوندان او بښېګڼو ته مخکښان؛ ټول به جنت ته د قيامت په ورځ له حساب او عذاب پرته داخليږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَا فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ 32 جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا﴾

(بيا مونږ د دغه کتاب (قرآن) وارثان کړل هغه کسان چې مونږ په خپلو بنده ګانو کې غوره (او انتخاب) کړي وو، بيا په دوی کې ځيني په خپل ځان ظلم کوونکي دي او ځيني په دوی کې مينځ لاري دي او ځيني په دوی کې نېکيو ته مخکښان دي، د الله په حکم سره، يقيناً همدغه ډېر لوی فضل دی 32

د تل استوګنې جنتونه دي، دوی به دغو ته ننوځي) (فاطر سورت) يعنې: د تل استوګنې جنتونو ته درې واړه ننوځي: له ځان سره ظلم کوونکی، د اعتدال خاوند، او ښېګڼو ته مخکښ.

او د اعتدال خاوند او ښېګڼې ته مخکښ چې دي؛ نو جنت ته به د دوی دواړو ننوتل؛ له حساب پرته لومړني ننوتل وي.

او چا چې له شرک نه ښکته د نورو ګناهونو په کولو له ځان سره ظلم کړی، هغه جنت ته داخليږي، خو ننوتل به يې لومړي ننوتل نه وي چې له حساب او عذاب پرته ننوځي لکه د اعتدال خاوند او ښېګڼو ته د مخکښ انسان ننوتل؛ بلکې هغه به د سزا او حساب ورکولو جوګه او د الله تعالی د ارادې لاندې وي، نو که يې غوښتل سزا به ورکړي او که يې غوښتل بخښنه به ورته وکړي.

## څلورمه مساله:

## د توحيد ماتوونکي او نيمګړتياوې

توحيد نواقض او نواقص لري؛ يعنې ماتوونکي او نيمګړي کوونکي لري؛ د توحيد نواقض هغه کارونه دي چې عمل (توحېد) بربادوي او ټول دين باطلوي، چې عبارت دي له: په الله تعالی کفر کول، شرک، خالص نفاق، کفر له ټولو ډولونو سره، شرک له ټولو ډولونو سره، لوی نفاق له ټولو ډولونو

سره، دا ټول د توحيد نواقض دي چې توحيد له بيخه نړوي، نو لوی شرک له ټولو ډولونو سره، او کفر له ټولو ډولونو سره او لوی نفاق له ټولو ډولونو سره د توحيد ماتوونکي او له اساسه ورانوونکي دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾

(بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندينۍ طبقه کې دي) [النساء سورت: 145 آيت]. او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ ﴾

(او څوك چې له ايمان نه انکار وکړي، نو يقينًا د هغه عمل برباد شو) [المائدة سورت: 5 آيت]، او الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ 65 ﴾

(او يقينًا يقينًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو څخه شې ﴿65﴾ (الزمر سورت)، نو توحيد د لوی شرک په ټولو ډولونو سره نقض کيږي، ورانيږي او باطليږي، او لوی نفاق له ټولو ډولونو سره، او لوی کفر له ټولو ډولونو سره، نو دا جمله به ډېر وخت ونيسي چې بحث پرې وشي او جزئيات يې بيان شي.

او د توحيد نواقص، يعني نيمګړي کوونکي هغه چارې دي چې توحيد نېمګړی کوي خو له بيخه يې نه رانړوي؛ چې له جملې څخه يې کوچنی کفر، او عملي نفاق دي لکه په حديث کې چې راغلي دي:

«آيَةُ المُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ»؛

«منافق درې نخښې لري: کله چې خبرې کوي دروا غ وايي، کله چې وعده وکړي؛ وعده خلافي کوي، او کله چې امانت وروسپارل شي خيانت پکې کوي»[1]؛ دا د توحيد نواقص دي، کله چې په بنده کې وموندل شي توحيد او ايمان يې نېمګړی کيږي، همدا رنګه کوچنی شرک او شرکي الفاظ دي چې د انسان موخه ترې د هغې الفاظو حقيقت نه وي، بلکې همداسې يې په ژبه راځي، نو پدې سره توحيد نېمګړی کيږي، خو که چيرته يې موخه ترې حقيقي معنا وه؛ لوی شرک ګرځي، کوم چې د توحيد نړوونکی دی.

لدې امله، مومن بايد خپل توحيد ته پاملرنه وکړي او ورسره محتاط اوسي او له هر هغه څه څخه يې لرې وساتي چې نړوي او يا يې نېمګړی کوي.

شيخ عبد الرحمن بن حسن وايي: «پوه شئ چې د توحيد ضد شرک دی؛ او په درې ډوله دی: لوی شرک، کوچنی شرک، او پټ شرک.

د لوی شرک دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا 116﴾

(يقينا الله تعالی نه بښي چې شرک وکړی شي د هغه سره، او بښي هغه (ګناه) چې ښکته وي له شرکه هغه چاته چې ويې

[1] بخاري (33)، او مسلم (58) د ابوهريرة له حديث څخه روايت کړی دی.

غواړي، او چاچې شرک وکړ د الله تعالی سره يقينا ګمراه شو دې په ګمراهۍ لرې سره ۱۱۶). (النساء سورت)، او د الله تعالی دغه وينا:

﴿وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ 72﴾

(مسيح، بني اسرائيلو ته وويل: تاسو د الله عبادت کوئ، چې زما رب دی او ستاسو رب دی، بېشکه خبره دا ده چې څوك له الله سره شريك نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوك مدد کوونکي نشته72 ﴾ (المائده سورت).

او دا څلور ډوله دی:

لومړی ډول: د بلنې شرک، دليل يې د الله تعالی قول دی:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ 65 لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ 66 ﴾

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين خالص کوونکي وي، نو کله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي 65

د دې لپاره چې دوی په هغو (نعمتونو سره) کفر (ناشکري) وکړي چې مونږ دوی ته ورکړي دي او د دې لپاره چې دوی فايده واخلي، نو ژر به دوی پوه شي 66﴾. (العنکبوت سورت).

دويم ډول: د نيت شرک چې هغه: قصد او اراده ده، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ 15 أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 16 ﴾

(هر څوك چې (داسې) وي چې دنيايي ژوند او د ده ښايست غواړي (،نو) مونږ به په همدې (دنيا) کې هغو ته د خپلو عملونو بدله پوره ورکړو، په داسې حال کې چې له دوی نه به په دې (دنيا) کې څه کمولی نشي 15

دا هغه کسان دي چې د دوی لپاره په اخرت کې نشته مګر اور او هغه څه برباد شول چې دوی په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه عملونه چې دوی به كول. 16﴾ (هود سورت).

دريم ډول: د طاعت شرک، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ 31 ﴾

(دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير خدايان نيولي دي او د مريمې زوی مسيح (يې هم)، حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت کوي چې نشته هيڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريکوي 31 ﴾ (التوبة سورت) د دې آيت هغه تفسير چې هيڅ ستونزه پکې نشته دا دی: د الله تعالی په نافرمانۍ کې د عالمانو او عابدانو

اطاعت، نه د هغوی بلنه هغوی لره، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عدي بن حاتم رضی الله عنه ته (دا آیت) تفسیر کړ، کله چې ترې هغه پوښتنه وکړه نو هغه وویل: موږ یې عبادت نه کوو. نو هغه ورته یادونه وکړه چې؛ عبادت یې په ګناه کې پیروي ده.

څلورم ډول: د محبت شرک، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّا لِّلَّهِ وَلَوۡ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذۡ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعَذَابِ 165﴾

(او په خلکو کې ځېنې هغه څوك دي چې له الله نه غیر شریکان نیسي، له هغوی سره مینه کوي له الله سره د مینې په شان، او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی؛ له الله سره په مینه کې ډېر سخت (او کلك) دي، او که چېرې هغه کسان چې ظلم یې کړی دی؛ دا وویني، کله چې دوی عذاب ویني، چې یقینًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی او دا چې یقینًا الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی165﴾ د الله تعالی تر دې وینا پورې:

﴿وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ 167﴾

(او هغوی له دوزخ څخه وتونکي نه دي 167﴾. (البقرة سورت).

دویم ډول: کوچنی شرک، او هغه ځان ښودنه ده، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلا صَٰلِحا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا 110﴾

(نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هيله لري، هغه دې نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هيڅوک نه شريکوي 110﴾ (الکهف سورت).

او دريم ډول: خفي يعنې پټ شرک، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

«الشِّرْكُ فِي هَذِهِ الأُمَّةِ أَخْفَى مِنْ دَبِيبِ النَّمْلِ على الصَّفَاةِ السَّوْدَاءِ فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ»،

«پدې امت کې شرک له هغه ميږي د تګ څخه هم زيات پټ دی چې په توره شپه کې په توره تيږه روان وي»، کفاره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بكَ شَيْئًا وأَنَا أَعْلَمُ، وأَسْتَغْفِرُكَ من الذَّنْبِ الَّذِي لَا أَعْلَمُ».

«يا الله زه تا ته پناه دروړم له دې چې تاسره څه شی شريک کړم، پداسې حال کې چې زه پوهيږم، او زه له تا څخه د هغې ګناه بخښنه غواړم چې زه نه پوهيږم».

او کفر په دوه ډوله دی:

هغه کفر چې انسان له دين څخه وباسي او په پنځه ډوله دی:

لومړی ډول: د تکذيب (دروغ ګڼلو) کفر، دليل يې د الله تعالى دا قول دی:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوى لِّلۡكَٰفِرِينَ 68﴾

(او له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې
دروغ تړي، یا د حق تکذیب کوي، کله چې ده ته دغه (حق)
راشي، ایا په جهنّم کې د کافرانو لپاره د اوسېدو ځای نشته 68﴾
(العنکبوت سورت).
دویم ډول: د تصدیقولو سربیره د سرغړونې او انکار کفر،
دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:
﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ
وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ 34 ﴾
ژباړه: (او کله چه مونږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده
وکړئ، نو هغوی سجده وکړه خو ابلیس نه، هغه انکار وکړ او
تکبر یې وکړ، او هغه و له کافرانو څخه 34﴾ (البقرة سورت).
دریم ډول: د شک کفر، دا د ګومان کفر دی، دلیل یې د الله
تعالی دا قول دی:
﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا 35
وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهَا
مُنقَلَبٗا 36 قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن
تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا 37 ﴾
ژباړه: (او دی خپل باغ ته داخل شو، په داسې حال کې چې
پر خپل ځان ظلم کوونکی و، ویې ویل: زه ګومان نه کوم چې
دا (باغ) به کله هم هلاك (او خراب) شي 35.
او زه ګومان نه کوم چې قیامت قایمېدونکی دی او قسم دی
که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو
به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځای ومومم 36

ده ته خپل (مومن) ملګري وويل، په داسې حال کې چې ده ته يې جواب ورکاوه: ايا ته په هغه ذات سره کفر کوې چې ته يې له خاورو پيدا کړې، بيا يې له نطفې نه، بيا يې ته سړی برابر کړې 37﴾ (الكهف سورت).

څلورم ډول: د مخ اړونې کفر، دليل يې د الله تعالى دا قول دی:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ 3 ﴾

ژباړه: (او کافران شوي کسان له هغه (قرآن) نه چې دوی پرې وېرولی شي، مخ ګرځوونکي دي). (الأحقاف سورت).

پنځم ډول: د نفاق کفر، دليل يې د الله تعالى دا قول دی:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ 3 ﴾

ژباړه: (دا ځکه چې يقينًا دوی ايمان راوړ، بيا کافر شول، نو د دوی په زړونو باندې مهر ولګول شو، پس ( اوس نو) دوی نه پوهيږي 3 ﴾ (المنافقون سورت).

او کوچنی کفر د دين نه وېستونکی نه دی چې هغه د نعمت کفر دی؛ دليل يې د الله تعالى دا قول دی:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلا قَرۡيَة كَانَتۡ ءَامِنَة مُّطۡمَئِنَّة يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدا مِّن كُلِّ مَكَان فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ﴾

ژباړه: (الله د يوه کلي مثال راوړی دی، چې هغه د ډاډينې او بېغمۍ ژوند تيراوه او له هر لوري ورته پريمانه روزي رسيدله چې هغه د الله د پېرزوينو پر ناشکرۍ لاس پورې کړ،

نو بيا الله د هغو پر اوسيدونکو د هغو د کړو وړو دا خوند وڅاکه چې د لوږې او ويرې غمونه پرې خواره شول).
[النحل سورت: 112 ايت]. او د الله تعالی دا قول:
﴿إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ 34﴾
ژباړه: (بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی34﴾ (إبراهيم سورت)،

او نفاق په دوه ډوله دی: اعتقادي نفاق او عملي نفاق.

اعتقادي نفاق:

په شپږ ډوله دی:

د رسول دروغ ګڼل، يا ځينې هغه څه دروغ ګڼل چې رسول راوړي دي، يا له رسول څخه کرکه کول، يا له هغه څه څخه کرکه کول چې رسول راوړي دي، يا د رسول د دين په ښکته کېدو خوشحاليدل او يا د رسول د دين د ملاتړ کرکه کول؛ نو دا شپږ ډولونه هغه څه دي چې خاوند به يې د اور په تر ټولو لاندينی طبقه کې وي، له تار په تار کېدو او نفاق څخه په الله تعالی پناه غواړو.

او عملي نفاق چې دی:

په پنځه ډوله دی:

کله چې خبري کوي دروغ وايي، کله چې جګړه کوي سپکې سپورې وايي، کله چې تړون وکړي دوکه پکې کوي،

کله چې ورسره امانت کېښودل شي خيانت پکې کوي او کله چې وعده وکړي عمل پرې نه کوي؛ و الله أعلم[1].

## پنځمه مساله:

## د توحيد مأخذ او سرچينه

توحيد يو ريښتينى دين او سالم ايمان دى چې د الله تعالى له کتاب او د هغه د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - له سنتو څخه اخيستل شوى دى، دا يوازينى دين دى چې له اسمان څخه په وحى نازل شوى، او ټولې هغه عقيدې چې خلک يې لري او د توحيد مخالفې او ورسره په ټکر کې دي، هغه عقيدې دي چې په ځمکه کې راټوکېدلې او خلکو له ځانه جوړې کړې دي. توحيد يوازينۍ عقيده ده چې د الله تعالى په وحى له اسمان څخه نازل شوې، او هغه دين دى چې د بندګانو لپاره يې خوښ کړى دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ﴾

ژباړه: (او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړ). [المائدة سورت: 3 آيت]، او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ﴾

ژباړه: (او څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له د ده نه قبول نه کړى شي). [ سورة آل عمران: 85 ايت] او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥ﴾

---

[1] «الدُّرر السَّنيَّة» (66/3).

ژباړه: (او مخ نه اړوي د دين د ابراهيم عليه السلام نه مګر هغه څوک چې بې وقوف کړي ځان خپل). [البقرة سورت: 130 آيت]. او الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ﴾

ببشکه (معتبر) دين د الله په نزد اسلام دی. [آل عمران سورت: 19ايت]؛ نو توحيد د الله تعالى له لوري وحى شوى دين دی چې بندګانو ته يې رالیږلی دی، او دا هغه دين دی چې له امله يې مخلوقات پيدا کړي او د همدې د تحقق لپاره يې رامنځته کړي، لدې امله موږ سره د الله تعالى قول وړاندې تېر شو چې:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾

ژباړه: (او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]،

﴿أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ 1 يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ 2 ﴾

ژباړه: (د الله حکم راغی، نو تاسو هغه په تلوار مه غواړئ، هغه لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې ورسره شريکوي1

هغه په خپل حکم ملايك له وحي سره نازلوي په هغه چا باندې چې يې وغواړي په خپلو بنده ګانو کې، چې تاسو (خلق) خبردار کړئ، په دې خبره چې ببشکه حقيقت دا دی چې نشته

هېڅ لايق د عبادت مګر زه يم، نو تاسو له ما نه ووېرېږئ 2﴾ (النحل سورت).

او له توحيد پرته نور عقايد هغه عقايد دي چې په ځمکه کې راټوکېدلي، له ځانه جوړ شوي او خلکو رامينځته کړي دي، لدې امله د خلکو په شرکي، کفري، نفاقي او داسې نور ډول ډول ګمراهو عقايدو په باطلولو کې د پيغمبرانو طريقه دا وه چې (خلکو) ته په ډاګه کړي چې پر دې عقايدو د الله تعالى له طرفه هيڅ کومه وحى نده نازل شوې، او پدې اړه موږ سره د يوسف عليه السلام د وينا معنا وړاندې تېره شوه چې په زندان کې يې دوو ملګرو ته وويل:

﴿ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ 39 مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ﴾

ژباړه: (آيا ګڼ او متفرق خدايان غوره دي که هغه الله چې يو دى، ډېر قوي او غالب دى ٣٩

تاسو له الله نه غير عبادت نه کوئ مګر د داسې نومونو چې تاسو او ستاسو پلرونو ايښي (او نومولي) دي (او) الله د دوى (د الوهيت) په باره کې هېڅ دليل نه دى نازل کړى). (يوسف سورت)، او الله تعالى په النجم سورت کې فرمايلي:

﴿أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ 19 وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ 20 أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ 21 تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ 22 إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ﴾

ژباړه: (نو تاسو ما ته خبر راکړئ د لات او عُزّى 19

او منات دريم، د ښځې وروستني 20

ايا تاسو لپاره هلکان دي او د هغه لپاره جينکۍ 21
دا خو يو ډېر بې انصافه وېش دی (۲۲)
(دغه (بوتان) نه دي مګر تش نومونه چې تاسو او ستاسو پلرونو دغه ايښي دي، الله په دغو هېڅ دليل نه دی نازل کړی). (النجم سورت)، او هود عليه السلام خپل قوم ته وويل:
﴿أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ 71 ﴾
ژباړه: (ايا تاسو زما سره په هغو نومونو کې جګړه کوئ چې هغه تاسو پخپله او ستاسو پلرونو نومولي دي، الله د هغو په باره کې هېڅ دليل نه دی نازل کړی، نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زه تاسو سره له انتظار کوونکو څخه يم (۷۱) (هود سورت).

نو د توحيد ماخذ او سرچينه د الله تعالى کتاب او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم سنت دی، چې له دې خوږې او پاکې چينې څخه سرچينه اخلي، او د خلکو عقايد چې دې نو يا خو يې مصدر هغه څه دي چې د دوی فاسد عقلونه يې ورته وايي او د دوی تاوان رسوونکي نظريات يې تايدوي، او يا خو د دوی بې لارې شوي شيطانان ورته وحی کوي، "او وحی په دوه ډوله ده: د رحمن لخوا وحی او د شيطان لخوا وحی. الله تعالى فرمايلي:
﴿وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ 121 ﴾
ژباړه: (او بېشکه يقينًا شيطانان خپلو دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وکړي او که چېرې

تاسو د هغوی اطاعت وکړئ، (بیا نو) بېشکه تاسو (هم) خامخا مشرکان یئ ۱۲۱) (الأنعام سورت)، او الله تعالی فرمايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّا شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡض زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُوراۚ ﴾

ژباړه: (او همدارنګه مونږ د هر نبي لپاره انسي او جني شیطانان، دښمنان ګرځولي وو، چې د دغو ځینو به ځینو نورو ته ښایسته کړی شوې خبرې د دوکه کولو (غولولو) لپاره ور اچولې) [الأنعام سورت: 112 آیت]، او الله تعالی فرمايي:

﴿هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ 221 ﴾

ژباړه: آیا زه تاسو ته خبر درکړم چې په چا باندې شیطانان راکوزیږي221 ﴾ [الشعراء سورت]، او مختار بن ابي عبید هم همدا ډول و، تر دې چې ابن عمر او ابن عباس ته وویل شو، له دوی څخه یو ته وویل شول: هغه وايي چې هغه ته وحی لیږل کیږي؛ نو هغه وفرمایل:

﴿وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡ﴾،

ژباړه: (او بېشکه یقینًا شیطانان خپلو دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وکړي)، او بل ته وویل شو: هغه وايي چې وحی پرې نازلیږي؛ نو هغه وفرمایل:

﴿هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ 221 ﴾».

ژباړه: ﴿آيا زه تاسو ته خبر درکړم چې په چا باندې شيطانان راکوزېږي؟ 221 ﴾»[1].

شيطان خلکو ته د ګمراهۍ په هغو عقايدو، مفکورو، وسوسو او فکرونو سره وحی کوي چې دوی پرې باور لري، بيا خلک د دې وحی له لارې چې د شيطان له خوا دوی ته نازل شوې خلکو ته بلنه ورکوي، يا هغه څه چې يو څوک ورته د خپل فاسد ذوق له لارې رسيږي،او بيا ترې ځينې عملونه، عبادات او مراسم رامنځته کيږي، او د استدلال لپاره يې وايي: موږ تجربه کړي يا زموږ شيخانو تجربه کړې؛ حال دا چې دين په تجربه نه اخېستل کيږي، يا په هغو کړنو چې له خوبونو اخېستل کيږي؛ وايي: په خوب کې مې دا او دا وليدل، او بيا په دې ويناوو دين او عقيده تاسيس کوي، او همداسې ورپسې ټول هغه څه درواخله چې خلک پرې خپلې عقيدې جوړوي چې د الله تعالی له لورې پرې هيڅ دليل نه دی نازل شوی.

نو مبارکه عقيده د توحيد عقيده ده چې د الله تعالی دين دی، او الله تعالی له دې پرته بل هيڅ دين نه مني، هغه عقيده چې د خوږې او پاکې چينې څخه سرچينه اخلي، نو چا چې لومړی له خوږې او پاکې چينې څخه څښاک وکړ، هغه ته بيا د نورو چينو ککړتيا معلوميږي، په هرصورت يو څوک د دې سرچينو په ککړتيا هغه مهال پوهيږي چې پاکه سرچينه وپيژني، کومه چې د الله تعالی وحې ده او د هغه له لورې نازل شوې ده، لدې امله ډيری مشرکان د دوی د لارښوونې او

[1] «مجموع الفتاوى» د ابن تيمية (75/13).

توحید منلو نه وروسته پوه شول چې دوی بې عقله وو، پداسې حال کې چې دوی د ګمراهۍ، شرک او باطل پر مهال فکر کاوه چې همدا صحیح عقل او سم دین دی.

لدې امله به ځینې صحابه کرام کله ناکله سره کېناستل او د جاهلیت د زمانې کیسې به یې سره یادولې چې دوی مشرکان وو او د الله جل جلاله شکر به یې ادا کاوه چې اسلام او توحید ته یې هدایت کړل؛ د ابو عثمان النهدي څخه روایت دی -دی هغه کس دی چې د جاهلیت دوران یې لاندې کړی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یې اسلام راوړی و خو هغه یې نه و لیدلی- وایي: موږ به د جاهلیت پر مهال د ډبرې عبادت کاوه، نو له یو آواز کوونکي مو واوریدل چې اواز یې کاوه - ای کډوالو رب مو هلاک شو، نو ځانته رب ولټوئ - یعنې هغه ډبره چې دوی یې عبادت کاوه ورکه شوه، وایي: نو موږ پسې ښکته پورته وګرځیدو، موږ د پلټنې په حال کې وو چې ناڅاپه یو غږ کوونکي غږ وکړ: موږ ستاسو رب وموند، یا مو ورته شی وموند، وایي راغلو، نو ګورو چې یوه تیږه ده، نو اوښان مو پرې حلال کړل[1] دوی د هغې ډبرې په څېر یوه بله ډبره یا هغې ته نږدې ډبره ومونده، نو رایې وړه، ورته یې مخ کړ او په عبادت یې پیل وکړ، امیدونه یې ترې کول، دعاګانې یې ترې غوښتې او هیلې یې ترې کولې، نو د دوی عقلونه چېرته دي؟!

---

[1] ابن أبي شيبة په خپل «مصنَّف» کې په: (33914) شمیره، او ابن سعد په :«الطَّبقات الكبرى» کې په: (97/7)، او أبو نعيم په «معرفة الصَّحابة» کې په : (4707) شمیره روایت کړی او إسناد یې حسن دی.

نو د دې عمل او کړنو پر مهال دوی د الله تعالی پیغمبران او رسولان لیوني او ځانونه عقلمند ګڼل، خو کله چې الله تعالی بصیرتونه په توحید او ایمان سره روښانه کړي او دې اسلام ته الله تعالی د زړونو لارښوونه وکړي، نو سړي ته هغه فساد روښانه کیږي چې مشرکان پرې وو، او دا چې هغه سرچینې چې دوی پرې تکیه درلوده ګنده او د هر ډول باطل او ګمراهۍ سره مخلوط دي، او دا هم روښانه کیږي چې د هر مشرک عقل فاسد دی.

## د توحید ګټې او ثمرې

توحید بې شمېره ثمرې او ګټې لري چې شمېرل یې ناشونی کار دی، دې خبرې ته د الله تعالی پدې وینا کې اشاره وګورئ:

﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلا كَلِمَة طَيِّبَة كَشَجَرَة طَيِّبَةٍ أَصۡلُهَا ثَابِت وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ 24 تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۢ﴾

ژباړه: (آیا ته نه ګورې چې الله د سپېڅلي کلمې مثال څنګه بښودلی؟ لکه یوه ښه ونه چې جرړې یې (په ځمکه کې) خښې وي او څانګې یې تر آسمانه رسېدلې وي). ۲۴

(خپله مېوه هر وخت ورکوي) (إبراهیم سورت)، یعنې ثمره او ګټې یې.

توحید د بنده لپاره په دنیا او اخرت کې بې شمېره ګټې او ثمرې لري، بلکې په ټولیزه توګه وایو چې:

هره ښېګڼه چې بنده ته په دنیا او آخرت کې رسیږي او هر شر چې بنده ترې په دنیا او آخرت کې ژغورل کیږي د توحید له ثمرو او اغېزو څخه دي، او که د توحید د ثمرو او اغېزو په اړه لږ په تفصیل کې ورننوځو؛ نو تر ټولو لویه ثمره او

اغیزه یې د اعمالو تصحیح ده؛ ځکه علمونه چې هر څه وي او هر کله وي له تر سره کوونکي یې له توحید پرته نه منل کیږي، نو توحید د اعمالو لپاره داسې دی لکه د ودانیو لپاره تهدابونه او د ونو لپاره یې بیخونه، لدې امله الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا 19﴾

ژباړه: [او هغه څوک چې اخرت غواړي او د هغه لپاره کوښښ کوي، د هغه لایق کوښښ، په داسې حال کې چې مومن (هم) وي، نو دغه خلک، د دوی سعي قدر کړی شوې (او مقبوله) ده] ١٩. (الإسراء سورت)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 97﴾

ژباړه: [چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر بدله ورکړو، د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول] ٩٧. (النحل سورت)، نو توحید دی چې اعمال اصلاح او پاکوي، حتی که یو څوک د ډیر نه ډیر عملونه ولري، له هغه څخه به ونه منل شي مګر دا چې پر توحید ولاړ وي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ﴾

ژباړه: [او دوی لره نه دي منع کړي چې له دوی نه دې د دوی لګولي مالونه قبول کړی شي مګر دې (خبرې) چې یقینًا

دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي). [التوبة: 54]، او الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ﴾

ژباړه: (او څوك چې له ايمان نه انكار وكړي، نو يقينًا د هغه عمل برباد شو). [المائدة: 5]، او فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾

ژباړه: (او يقينًا يقينًا تا ته وحي كړی شوې ده او هغو كسانو ته چې له تا نه مخكې وو (داسې چې) قسم دی كه تا شرك وكړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي). [الزمر: 65]. نو توحيد عملونه تصحيح كوي، او له دې پرته هيڅ عمل صحيح ندی.

توحيد په دنيا او آخرت كې د برياليتوب او لوړوالي لامل دی.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ 5 ﴾

ژباړه: (دغه خلک د خپل رب له طرفه په راغلي هدايت باندې دي او همدغه خلک پوره كامياب دي)5 (البقرة سورت)، نو د توحيد خاوندان د لاربښوونې او برياليتوب خلک دي، او برياليتوب د نيكمرغۍ د ترلاسه كولو په اړه تر ټولو لويه كلمه ده، بريالی كس هغه څوک دی چې د دنيا او آخرت ښېګڼه يې ترلاسه كړې وي، او په دې نړۍ او آخرت كې ښېګڼه يوازې د الله په توحيد او د هغه لپاره د دين په خالصولو ترلاسه كيږي.

د توحيد له ثمرو څخه يوه دا ده چې دا د الله تعالى د کرامت او جنت د ترلاسه کولو او د الله تعالى د عذاب او غضب څخه د خلاصون لامل دى. نو چا چې د الله تعالى سره د موحد په توګه ملاقات وکړ، جنت ته به داخل شي، او څوک چې -نعوذ بالله- له الله تعالى سره د مشرک په حيث مخ شو نو دوزخ ته به لاړ شي او د تل لپاره به پکې وي. الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ ﴾

ژباړه: [بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك کړى شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي). [النساء: 48]، د توحيد له اغيزو او ثمرو څخه د جنت ګټل او له دوزخ څخه نجات موندل دي.

نو که چيرته يې په واجبه يا مستحبه توګه توحيد عملي کړى و نو اور ته له داخليدو به نجات ومومي، او که چيرته موحد و، خو له شرک پرته يې نور ګناهونه کړي و، نو نجات يې دا دى چې د تل لپاره به په اور کې نه پاتې کيږي؛ ځکه چې يوازې مشرک دى چې د تل لپاره به پکې پاتې کيږي، لکه څنګه چې په حديث کې راغلي:

«أَمَرَ المَلَائِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مِنْ كَانَ لَا يُشْرِكُ باللهِ شَيْئًا مِمَّنْ أَرَادَ اللهُ تعالى أَنْ يَرْحَمَهُ مِمَّنْ يَقُولُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ».

ژباړه: «ملايکو ته يې امر وکړ چې هغه کسان له اور څخه راوباسي چې له الله تعالى سره يې هيڅ شى شريک کړى ندى،

له هغو کسانو چې الله تعالی پرې رحم کول غوښتل، له هغو کسانو چې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ» وايي[1].

له ثمرو څخه يې يوه دا ده چې دا د سينې د پراخېدو تر ټولو لوی لامل دی، نو د خاوند سينه به يې د کمال، ځواک او زياتوالي سره سمه پراخه وي.

الله تعالی فرمايلي:

﴿أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦ﴾

ژباړه: (ايا نو هغه څوک چې الله د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيستلې وي، نو دغه کس به رڼا کې وي د خپل رب له جانبه). [الزمر: 22]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ ﴾

ژباړه: (نو څوك چې الله هغه ته د هدايت كولو اراده وكړي، (نو) د هغه سينه د اسلام لپاره پراخه کړي او هغه څوك چې هغه يې د ګمراه كولو اراده وكړي (، نو) د هغه سينه تنګه كړي، بېخي تنګه، ګويا كې هغه پورته اسمان ته په سختۍ سره خېژي). [الأنعام: 125]، نو هدايت او توحيد د سينې د پراخېدو له سترو لاملونو څخه دي، په داسې حال کې چې شرک او ګمراهۍ يې د تنګوالي له سترو لاملونو څخه دي.

---

[1] بخاري (7437) او مسلم (182) د أبو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه روايت كړی دی.

له ثمرو څخه يې يوه دا ده چې الله پاک د توحيد خاوندانو ته په دې دنيا کې عزت او بريا، په ځمکه کې واک، ډاډ او د حالاتو سمونتيا تضمين کړې دې. الله تعالی فرمايلي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ 55 ﴾

ژباړه: (الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی ستاسو نه، او نېك عملونه يې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته يې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دين ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شريکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي 55 ﴾ [سورة النور].

او لدې څخه: دا چې توحيد د بنده پر مخ د خېر، خوښۍ، لذت، خوشحالۍ، او سکون دروازه پرانيزي. الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ 28 ﴾

ژباړه: (هغه کسان چې ایمان یې راوړی او د هغوی زړونه د الله په ذکر سره مطمئن کیږي، خبردار شئ! یوازې د الله په ذکر (یاد) سره زړونه مطمئن کیږي 28 ﴾ (الرعد سورت)، او الله تعالی فرمایلي:

﴿فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ 123 وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَة ضَنكا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ 124 ﴾

ژباړه: (نو که تاسو ته زما له جانبه هدایت راغی، نو چا چې زما د هدایت پیروي وکړه، نو دی به نه ګمراه کیږي او نه به بدبخته کیږي 123

ژباړه: (او هغه څوك چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قیامت په ورځ ړوند راپورته کوو 124﴾ (طه سورت).

نو دا د دې لوی موضوع په اړه یو څو ساده وېناوې وې، زه له الله جل جلاله څخه سوال کوم چې مونږ ټولو ته په هغه څه ګټه راورسوي چې مونږ زده کړي او مونږ ته یې حجت وګرځوي؛ نه پر مونږ، او دا چې مونږ ته سمه لاره راوښیي.

والله أعلم وصلَّى الله وسلَّم على عبده ورسوله نبيِّنا مُحمَّد وآله وصحبه أجمعين.

**شپږمه مساله:**

فهرست

د توحید نښانې.................................................................. 2
لومړۍ مساله:.................................................................. 3
د توحید ځانګړتیاوې او فضیلونه.................................. 3
دویمه مسأله:.................................................................. 17
د توحید تعریف او حقیقت.............................................. 17
دریمه مساله:................................................................. 24
د توحید عملي کول او بشپړول..................................... 24
څلورمه مساله:.............................................................. 27
د توحید ماتوونکي او نېمګړتیاوې.................................. 27
پنځمه مساله:................................................................ 37
د توحید مأخذ او سرچینه............................................. 37
د توحید ګټې او ثمرې.................................................. 44
شپږمه مساله:............................................................... 50

ps412v1.0 - 06/09/2026